## هادم
هغه شخص چې خپل یا د بل چا ملکیت د شرعي او قانون خلاف چپه او منهدموي. دری: [هادم]

## هاذل
هغه شخص دی چې د عادت له مخې په بې پروا وینا او هذل ویلو شهرت ولري. دری:[هاذل]

## هاذل طلاق
هغه طلاق چې د شوخی او چټیات ویلو په مهال صورت مومي. دری: [ طلاق هاذل]

## هبه
بل چا ته د مال تملیک کولو ته ویل کیږي. دری:[هبه]

## هجر
د هغو بدو کلماتو استعمال دی چې مخامخ یوه شخص ته استعمالیږي. دری:[هجر]

## هدیه
د مدني حقوقو په اصطلاح کې هدیه د اکرام او تعظیم له مخې په مجاني توګه د منقول مال تملیک او یا له یوځای څخه بل ځای ته د هغې انتقال دی. دری:[هدیه]

## هسته یې مواد
پلوتو نیوم، بدای شوي یورانیوم، او یورانیم دي.
دری:[مواد هسته یی]

## همجوار(ګاونډی)
د جانبي، پورتني او یا لاندني ګاونډې په ګډون ګاونډې څخه عبارت دي. دری: [همجوار]

## هنري مالکیت
د قانون له احکامو سره سم د هغه هنرمند چې یو اثر یې منځ ته راوړی وي، د انحصاري استفادې حق ته وایې.
دری: [مالکیت هنری]

## هوایي بارلیك
هغه سند دی چې د فضا له لارې د مالونو د لیږدېدو په منظور د الوتنې نېټه، د انډیو شمیر، د مال وزن، ډول، د تسلیمی مرجع او د مالك د شهرت له مخې د اړوندو هوایی کرښو د نمایندګیو په واسطه ترتیبیږي.
دری:[ بارنامه هوایی]

## هولو ګرام
له هغو ګرافونو او ځلاندو نوارونو څخه عبارت دی چې د پیسو د جعل د مخنیوي په منظور د بانکنوټو او نورو ټولو بهادارو اسنادو په مخ چاپیږي. دری:[هولوګرام]

## هویت
د هغو ټولو ذاتي او مدني اوصافو له مجموعې څخه عبارت دی چې د اشخاصو ترمینځ د توپیر معیار تشکیلوي. دری: [هویت]